# سرور استاد، د چاربېتې مجاهد شاعر

## Sarwar Usthad; Poet of the Folkloric Genre *Charbaytha*

Wazeer Sahdaan*

**Abstract:** The Pashto Folkloric genere *Charbaita* is synonymous to Quatrines in English is one of the most prevalent and popular folkloric generes that has persisted its distinct scope and objectivity for a long time. It is an outcome of the *Hujra* Culture that has been a dominant feature of the *Pashtunwali* and over all social structure. As one of the most popular generes, it encomposes diverse aspects of social change, political awakening and education of the ordinary persons. Folk generes usually unfold outstanding resistnace to the external and internal atrocities. *Charbaita* especially has nurtured resistance against the invaders, emperors or colonial masters who have strived to subjugate the land and honor of Pashtuns. Sarwar Usthad, a folkloric poet from Kohat, has expressed heart touching resistnace in the form of poetic genere *Charbaita.* His work has created a riffle affect to incept new trends of expressions is imbedded in the awakening of political and social consciousness of the Pashtun folk.

چاربېته داولسي شاعرۍ د خاصوسندرو په برخه کښې راځي ځکه چې ويونکي ئې عموماً معلوم وي خوداسې چاربېتې هم شته چې سينه په سينه په شفاهي ډول تر مونږ رارسېدلې دي او ويونکی ئې معلوم نۀ دی.خواکثر محققين په دې خبره يوۀ خولۀ دي چې چاربېته د اولسي شاعرۍ قسم دی چې دمقبوليت په لحاظ په ټپې پسې ځای نيسي.

اروابناد افضل رضاپه دغه باب ليکي:

"چاربېته د پښتوعوامي سندرود ټولونه زيات مشهورصنف دی"1)

ښاغلی داورخان داؤد ليکي:

"په اولسي شاعرۍ کښې چاربېته هم لکه د ټپو مشهور صنف سخن دی. داهم لکه دټپې يوقديم صنف دی اوڅومره په مينه اوشوق چې پښتانۀ ټپه وائي هم دغه هومره مينه اوشوق چاربېتې سره هم لري". (2)

---

* Assistan Professor Government Post Graduate College Kohat-KPK

عبدالله جان عابد د چاربېتې په حقله ليکي:

"چاربیتہ بھی پشتولوک شاعري کی ایک معروف صنف ہے.یہ عموماً مرد حضرات گاتے ہیں.عوامی صنف ہونے کے ناطے چاربیتہ بھی سینہ بہ سینہ ایک نسل سے دوسری نسل کو منتقل چلا آرہاہے".(3)

د ښوارلسم جماعت د نظم په کتاب کښې مصنفين ليکي:

"دا (چاربېته) د پښتو ادب يو اولسي صنف دی. د نوم نه ئې صفا معلومېږي چې په هر بند کښې ئې څلور شعرونه وي. په عوامي شعري صنفونو چاربېته د ټپې نه پس د پښتو مشهور او مقبول صنف دی". (4)

د پښتو اکېډمۍ له خوا چاپ شوي يو کتاب کښې مصنفين چاربېته د اولسي شعر مقبول صنف ګڼي. هغوی ليکي:

"په پښتو ژبه کښې د پخوا نه چې کوم شعرونه رارواں دي. په هغو کښې لنډۍ، چاربېته، بدله، لوبه، نيمکۍ ډېر مشهور قسمونه دي".(5)

چاربېته پښتو ادب ته کله راغله، ارتقائي پړاؤنه ئې څۀ دي .دا ځان ته څېړنه غواړي خو په دې مقاله کښې د کوهاټ د يو داسې شاعر په حقله څېړنه کوؤ کوم چې د معلوم تاريخ ترمخه په کوهاټ کښې د چاربېتې باقاعده اولنی شاعر دی.دې شاعر د چاربېتې په صورت کښې د ازادۍ يو تحريک چلولی دی.د فرنګ خلاف ئې چاربېتې نه د توري کار اخستی دی.د دې مجاهد شاعر نوم سرور استاد دی چې په ملا سرور کوهاټي هم مشهور ؤ. سرور استاد د کوهاټ ښار سره جوخت کلي ځنګل خېلو کښې اوسېدو .حالانکه په کوهاټ کښې چې په کومو دوؤ کلو کښې چاربېته په وراندې لاړه هغه لاچۍ اوزېره پټيالۍ دي.په لاچۍ کښې په يو وخت کښې د چاربېتې ګڼ شاعران پېدا شول او چاربېته ئې د ختکو په دې خاوره سيالۍ کړه. د غه رنګ د زېرې پټيالي نوم هم د چاربېتې د ارتقاء په سفر کښې ښۀ نوم لري.ګڼ لوستو او نالوستو شاعرانو چاربېتې ته مخ کړو .د موسيقۍ داسې محفل به نۀ وو چې په چاربېته به ګرم نۀ ؤ. په دې سيمه چاربېته ښۀ په شرنګ د حجروزينت وګرځېده.په لنډه توګه دا وئيلی شو چې په مجموعي ډول کوهاټ د چاربېتې په ارتقاء کښې اهم کردار لري.خو د افسوس مقام دا دی چې تر اوسه ورته چا څۀ خاص پام نۀ

دی کړی .په هرحال په کوهاټ کښې دچاربېتې سرخېل اروښاد سروراستاد دی.

سروراستاد (ملا سرورکوهاټي) په ۱۸۸۲ء کښې دځنګل خېلوایاخان کره سترګې پرانستې.دغریبۍ دلاسه ئې دځلورم جماعت نه پورته تعلیم ونۀ کړی شو.ځوان شو.شاعرشوخودژوندملګرې ته برابرنۀ شو.دکربوغه شریف ملا صاحب نه ئې دیني سبق اووې اوورو سته ئې دوعظ اونصیحت کارشروع کړو.ددوي دمرګ تاریخ ۲۳مارچ ۱۹۴۴ دی . رومان ساغر،اکمل اسدابادي اوهمېش خلیل دریواړو د هغوی دمرګ کال ۱۹۴۴ء ښودلی دی .( ۲ ). ( ۷ ). ( ۸ ).

سروراستاد داولسي شاعرۍخصوصاًدچاربېتې مجاهد شاعر وو. د هغوی انداز ساده او اولسي ؤ. کلام ئې د "سوغات" په نوم د اروښاد رومان ساغرپه زیارپه کال ۱۹۹۰ء کښې د تاج پرنټنګ پرېس پېښور له خوا په وړومبي ځل چاپ شو چې په چاربېتو، نظمونو، غزلو او قطعو مشتمل دی .خوددې نه وړاندې په کال ۱۹۵۹ء د تېرې نامتوافسانه نګار اکمل اسدابادي دسرور استاد کلام راټول کړوکوم چې د پښتو اکېډمۍ د لائبرېرۍ د مخطوطاتو په فهرست کښې په عددِ مسلسل نمبر ۷۲ د نغماتِ سرحدي (پشتوشاعري) په نوم محفوظ دی چې ټول مخونه ئې ۱۷۲ دي.

سرور استاددفرنګیانوسخت مخالف ؤ. په دغه سبب ئې په تحریکِ خلافت، ترکِ موالات،تحریکِ هجرت اوخدائي خدمتګارکښې څرګنده برخه واخستَه.په وړومبي جنګِ عظیم (۱۹۱۲ء) کښې چې اټلي دفرنګیانوپه مرسته په ترکوحمله وکړه نوسرور استاد دطرابلس دجنګ مشهوره چاربېته اووئیله:

زورد کافرو په سلطان راغی
وخت دمهدي اخرزمان راغی
شاهي دبدب دروم مدام اوسه
روس او جرمن ددۀ غلام اوسه" (9)

د دې چاربېتې په خوربېدو دکوهاټ ډېټي کمشنر بروس (Bruce) سرور استاد را وغوښتو. د فرنګيانو د مخالفت په نتيجه ئې پوهه کړو خو سرور استاد کله پوهېدو ځکه چې ديوزېګ پښتون په حېث د حريت اوازادۍ جذبه دهغۀ په فطرت کښې شامله وه.کمشنرد هغوی په انکارد هغوی د ګرفتارۍ حکم جاري کړو.سروراستادقبائيلي سيمې دره ادم خېلو ته فرارشو او هلته ئې د فېروزي کلي د يوجماعت امامت شروع کړو. ډېر عمرئې هغلته تېرکړو. څۀ موده په قاسم خېلوکښې هم پاتې شو.

د سروراستاد د فرنګيانونه د نفرت يوه واقعه اروښاد رومان ساغرداسې رقم کوي:

"د هجرت په زمانه کښې يوه ورځ چې دره ادم خېلونه افغانستان ته جتې په هجرت روانې وې اود ادم خېلو د روسيانوکلي سره سړک باندې استاددغه جتوته الوداع وئيلوته ولاړ ؤ، چې په دې کښې دکوهاټ نه يوفرنګی فوځي ډاکيه په ډګډګي باندې سورراغی اوتېرېدلو،د استاد پرې نظرشودغه وخت دګرمۍ ورځې وې اوداستادپه لاس کښې ببوزی ؤ. فرنګی ئې پرې راايسارکړلو.دډګډګي نه ئې اغورزولواوښۀ ئې اوټکولو.ددې واقعې نه د استاد د ازادۍ سره دبې کچه مينې اودغلامۍ سره دبې خرته کرکې اظهارکېږي".(10)

سروراستاد په هېڅ صورت دپښتنوپه خاوره دبل قوم حکمرانۍ ته غاړه نۀ کښېښوده.هغه په ازادۍ مئين ؤ. په دغه سبب هغوی دفرنګيانوخلاف دجهاداعلان کړی ؤ. هم ئې دتورې جهادکولواوهم ئې د قلم.هغوی دفرنګيانوخلاف داولس په ژبه شعراووې .خپل جذبات اواحساسات ئې په ډېرساده اوخوږ اندازاولس ته اورسول.سروراستاد ددې مقصددپاره داولسي شاعرۍ مقبول صنف چاربېتې انتخاب وکړو.اوپه چاربېته کښې ئې دزړۀ اور اوورولو.هغوی غزل اوقطعې هم لري .نظمونه ئې هم ليکلي خوکوم خوندچې د هغوی په چاربېته کښې دی هغه د هغوی په بل صنف کښې په نظرنۀ راځي.

سرور استاددساخت اوموضوع په لحاظ مختلف قسم چاربېتې ليکلې دي.حمديه،نعتيه،داستاني،روماني او رزميه چاربېتې د هغوی دشاعرۍ برخه

ده.هغوی په چاربېته کښې دعام اولس عامې غوښتنې اومسئلې هم بیان کړې دي اودمینې درازاونیازخبرې هم لري.د هغوی چاربېته روایاتي اندازهم دځان سره تړلې ګرځوي اوځنې چاربېتې د هغوی ددیني علم اوفقه عکاسي هم کوي . ددې نه علا وه علا قائي لغت هم د هغوی د چاربېتوبرخه ده.دسروراستادتولې چاربېتې ښکلې دي خو رزمیه چاربېتې ئې ډېرې دقدروړدي.ددې وجه شاید داده چې په رزمیه چاربېتوکښې د هغوی دزړۀ جذبات ډېرپه ښکلي اوجلا لي ډول رایوځای شوي دي.

په دغه حواله پرېشان خټک لیکي:

"د یو ښۀ شاعرسره سروراستاد داسې نرمجاهدؤ چې نۀ یوازې د دین تعلیم ئې حاصل کړو ورسره ئې د دین په تقاضوکښې یوه غټه دجهادغوښتنه هم پوره کړه.نن خوهسې فېرنګی په خولۀ یادېږي خوچاچې دفېرنګي دغدغه لیدلي ده. د هغوی نه تپوس اوکړئ چې دخلقوپه زړونوکښې ئې داسې ویره کښېنولې وه چې عام اولس به اکثرداوئېل چې فېرنګی ددې ملک نه ورکېږي نودزمکې په مخ به دوه فته سکه خوره کړي.فېرنګی خولاځۀ چې دهغې دېسي پولیس سپاهي ته به چاپورته نۀ شوکتلی .په هغه وخت کښې دکوهاټ چهاونۍ سره جوخت دفېرنګي دزورپه بېخ کښې یوداسې سړی چې په ځنګل خېلوکښې پېداشوی ؤ.دپښتونخوادنوروډېروشاعرانوپه شان راپاڅېدو.ددین اودوطن دازادۍ بېرغ ئې پورته کړو چې څۀ تړې کېدی شوهغه ئې اوکړل.په خپل کلام اوعمل ئې دفېرنګي دراج بنیادونه کمزوري کړل".(11)

احمدنواز شنواري د سرور استاد دقلمي جهاد په حقله لیکي:

"ترڅو پورې چې د سرور کوهاټي په حقله زما د خپلو جذباتو او احساساتو تعلق دی نوزما په خیال استاد سرور کوهاټي په هغه عالمانو شاعرانو او باشعوره کسانوکښې شامل دی کوموچې دکال ۱۸۵۷ء جنګ ازادۍ نه پس دانګرېزانوخلاف دجهاداعلان کړی ؤاودبرِصغیرپه مسلمانانوکښې ئې داسلام اودازادۍ نوې جذبه رالړزولې وه".(12)

ښاغلی اکمل اسدابادي په دغه باب لیکي:

"دسروراستاددنعرونه دحکومت په اېوانونوکښې زلزله راغله که نهٔ وي نوډېرښهٔ ښهٔ شاعران هغه ساعت موجود ؤ.د هغوی په خولهٔ کښې به ډېراثرهم وي خوچې کومه یره انګرېزانو د سرور استاد نه محسوسوله هغه ئې یوه زره هم دبل چا نه نهٔ وه".(13)

اوښادرومان ساغرد هغوی دازادۍ سره مینه داسې بیانوي:

"سروراستاد وادهٔ نهٔ ؤ کړی او د ناوې مخ ئې نهٔ ؤلیدلی خودازادۍ دناوې ډېرلېوالهٔ ؤ اوددې دپاره دفرنګیانوډېرمخالف ؤ. سخته کرکه به ئې ترې کوله اوهروخت به ئې دفرنګیانو دتخت تباهي غوښتله".(14)

لنډه دا چې سرور استاد د چاربېتې په صورت کښې د فرنګیانوخلاف یو قسم جهاد روان کړی ؤ. د هغوی چاربېتو د ازادۍ په تحریک کښې اهم کرداراداکړی دی .هغوی داولس جذبات دفېرنګ په خلاف رالړزولي دي.پښتنانهٔ ئې دازادۍ په قیمت پوهه کړي دي.خوددې قسم چاربېتونه علاوه د هغوی ځنې چاربېتې داخلاقیاتوددرس په لحاظ هم ډېراهمیت لري چې دسرور استاددااسلامي فکرڅرګندونه ترې کېږي.

ښاغلی پروفېسراسیرمنګل په دغه حواله لیکي:

"د دهٔ دشاعرۍ نه هم دغه اندازه لګي چې دهٔ ټول عمردخپل اولس دذهني خېرښېګړې دپاره متې پورته کړې وې.ځای په ځای پخپلوچاربېتواوپه نظم نماغزلونوکښې ئې دقوم داصلاح دپاره غږکړی دی .ددنیا بې ثباتي ئې ښکاره کړې ده اوداپیغام ئې پرېښې دی چې په دې دنیا کښې هغه سړی کامیاب دی چې هغه په نېغه لاروخت تېرکړې.شاعري ئې ساده روانه اوسوچه ده.دخپلې علاقې ټکي ښهٔ زرهٔ وریکارراولي".(15)

دالله ( ج ) اومحمد(ص) په شان کښې د هغوی چاربېتې د معیار او مقدار په لحاظ د ستاینې وړدي . په چاربېتو کښې د الله او رسول (ص) صفتونه داسې په هنر رانغاړي چې قاري ورته د حیرت په سترګوګوري .بل اړخ ته د فن په لحاظ د چاربېتې اهنګ او چستي هم په ځای ساتي. د مثال په توګه یوه حمدیه چاربېته :

قـــــــادره برکمالـــــــــــــــه
کـــــه ځـــــان نـــــهٔ ښـــــائی چالـــــه
ځرګنـد دې قدرتونـه پـه زمـین اوپـه اسـمان دي
لیکلـــــــي پـــــــه قـــــــرآن دي
هرڅـــــوک ســــــتاپه صـــــفت دي
لګیاپـــــــــــــه مشــــــــــقت دي
زاری اوپـــه منـــت دي فریادونـــه کـــوي تالـــه
قـــــــادره برکمالـــــــــــــــه"(16)

دغـه رنګـې د معـراج نـامې چاربېتـه درې اتیـا (۸۳) بندونـه لـري چـې د زنځیر د کړو په شان یو تر بله پېئلي دي .

کلـه چـې اورنګزیـب عالمګیرپـه حـاجي بهـادر(رح) پسـې کوهـاټ تـه پیغـام راولیږلـوچې بادشـاه سـره دې پـه حسـن ابـدال ووینـې نـوځنې خواخوږودنـهٔ ورتلومشـوره ورکـړه خوحـاجي بهـادر(رح) زړور ؤ ځکـه چـې پـه نیـت اوزړهٔ پـاک ؤ .بادشـاه تـه ورغـی . دمـذاکرې نـه پس بادشـاه دهغـهٔ دکرامـاتومعترف شـو.ډیراحترام ئـې ورلـه ورکړو.دغـه هرڅـهٔ سروراسـتادپه دې چاربېته کښې په ښکلي ډول راوړي دي:

صـــبحدم دی ســـــحري بلبـــــل چغیــــــږي
مزاکـــــــاد بلبلانـــــــــو اوازونـــــــــه
کوهـــــــاټی حـــــــاجي بهـــــــادرخوروانیږي
داورنـــګ وریســـې راغلـــل کاغذونـــه"(17)

د سـرور اسـتاد ځینـې چاربېتې د علـم او فلسـفې لـوړې نمـونې دي چـې د اسـتاد د علمیـت او ذهانـت تـرې ښـکارکیږي. "حـال دزمکـې اواسـمان" نومې چاربیتـه کښـې هغـوی پـه کیسـه ایز انـدازد زمکـې او اسـمان حـال بیـان کـړی دی چـې خونـدور هـم دی، د علـم پـه ملغلـرو ډک هـم دی او د فلسـفې ولونه هم لري.

شــاگرده یــوه ورځ مــې پــه لاس واخســتۀ کتــاب
پکښــــــــــې وې مرغلــــــــــــرې
سـا معـه راشـه راشـه چـې لـۀ حالـه شـې خبـر
دزمکــــــــــــې داســــــــــــمان"(18)

د سـرور اسـتاد رومـاني چـاربېتې هـم ډېـرې پـه زړۀ پـورې دي.داقسـم چـاربېتې ئـې پـه لوستوسړی حجرې تـه بـوځي اوپـه ذهـن کښـې ورلـه یوقسـم جمـالي شـور اوچسـتي پېـدا کړي.درومانی چاربېتوپـه حقلـه دسـرور اسـتاد معیـار د کتـو وړدی .د چـاربېتې ټـول لوازمـات د هغـوی دچاربېتوبرخـه ده .پـه لوسـتوئې بېخـي تـودمنظرمخې تـه راشـي .پـه لفظونوکښـې ئـې داسـې اهنـګ ځـای کـړی وي چـې دلاسونوپړقااودځوانانوشوراومسـتي پکښـې پـه ښـکاره ډول محسـوس شـي.ځکه ورتـه همـېش خلیـل دخپـل دور مقبـول اولسي شاعروئیلي دي.هغوی لیکي:

"اولسي شاعرۀ او د هغه وخت په اولس کښې ښۀ مقبول ؤ ".(19)

ولـــــــول لکـــــــــه مـــــــاران
پـــــه مـــــخ لــــــرې زلفــــان
څــوکې دې ښـاماران کـاجینې لښـتې دچنـدنې
نــــــرۍ ختلــــــــې غــــــاړه"(20)

اویاداچې:

ســــــــــترګې دې خونکـــــــــارې دي
نرمـــــــــــې دې رخســـــــــارې دي
تــورې منګـرۍ زلفــې دې ماتــه پــه غضـب رپـي
ســـــورپېزوان پـــــه لــــب رپـــــي"(21)

پــه هرحـال سروراسـتاد اوچاربېتـه دیوبـل سـره داسـې پېوسـت دي چـې دیوبـل دذکرنـه بغېـردواړه نیمګړي دي چـې کلـه هـم دچـاربېتې تـذکره کېږي نودسروراســتادنوم بــه ورســره یــادیږي اودسروراســتاد دنــوم ســره بــه

دچاربېتې نوم راځي.په اخرکښې دسروراستاد دانقلابي اورزمیه چاربېتې یوبند:

د انګــــــــر يــــزا نـــــو ظلــــم زور دی
وطــــن زمـــــونږه ســــوی ســـــکوردی

ظلـــم کــــوي پــــه غریبانوبانـــــدې
دخـــــدائی لعنــــت پــــه انګرېزانوبانــــدې

د انګرېزانـــــــــو بادشـــــــــاهي ده
هریـــــــوۀ لورتـــــــه تبـــــاهي ده
دشـــــــریعت نــــــه ګمراهـــــــي ده
ددیــــــن اســـــلام داتبـــــاهي ده
نفـــاق دلاســـــه مــــــونږه زورنــــۀ لــــرو
ځکــــه مونږحـــق پــــه آ خپـــل کورنـــۀ لــــرو

مــــونږه خپـــل دیـــن ګـــوره پرېښــلی نـۀ شـــو
نـــاحق تـــه حـــق کلـــه وئیلـــی نـــۀ شـــو

نـــاحق قتلونــــــه کـــــوي چـــــوردی
د انګرېزانــــــو ظلــــــم زور دی"(22)

# حوالې


۱ ،افضل رضا ،د پښتوعوامي ادب، وړومبی لساني اوثقافتي کانفرنس، ۱۹۸۲ ، مخ ۲۲۴

۲- داؤد ، پروفېسر داورخان، ټپه، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور۱۹۹۲ء مخ ۳۰

۳- عابد، عبداللہ جان، پشتو زبان وادب کی مختصر تاریخ، یونیورسٹی پبلشرز پشاور، ۲۰۰۶ء، صفحہ 143

۴.اعظم، پروفېسر ډاکټر محمد اعظم، پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم، نظم (دڅوارلسم جماعت دپاره) ملت پبلېشنګ کمپني چارسده، ۲۰۰۰ء،مخ ۲۴

۵- پردل خان خټک، سیف الرحمان سید ، د پښتو اولسي شاعري، پښتو اکېډمي پېښوریونیورسټي، ۱۹۸۰ء،مخ ۱۴

۶- رومان ساغر، یو څو خبرې، سوغات د سرور استاذ ، مرتب رومان ساغر، تاج پرېنټنګ پرېس پېښور ۱۹۹۰ء مخ ۲۹

۷- اکمل اسدابادي، وړومبی ټکی، سوغات مخ۱۷

۸- همېش خلیل، د چاربېتې شاعران، پښتواکېډمي پېښور یونیورسټي،۲۰۰۷ء، مخ۲۸۱

۹-سروراستاذ ،سوغات،مرتب رومان ساغر، مخ۷۴

۱۰- رومان ساغر،یوڅوخبرې،سوغات،مخ ۲۵-۲۶

۱۱- پرېشان خټک،پېش لفظ،سوغات،مخ ۱۰

۱۲- شنواری،احمدنواز،سریزه،سوغات،مخ ۱۵

۱۳- اکمل اسدابادي،وړومبی ټکی،سوغات،مخ ۱۷

۱۴- رومان ساغر،یوڅوخبرې،سوغات،مخ ۲۳

۱۵- اسیرمنګل،سوېلي رنګونه (تذکره) دانش خپرندویه ټولنه پېښور،۲۰۰۹ ء، مخ ۳۲-۳۳

۱۶- سروراستاد ،سوغات،مخ ۲۰

۱۷- همدغه،مخ ۸۳

۱۸- همدغه ،مخ ۱۱۵
۱۹- همـېش خلیــل، د چــاربېتې شــاعران، پښــتو اکېــډمي پېښــور یونیورستۍ، ۲۰۰۷ء مخ۲۸۱
۲۰- سروراستاد، سوغات، مخ ۱۵۵
۲۱- همدغه، مخ ۱۲۲
22. همدغه، مخ ۱۵۲